مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

# حضرت بایزید علیه رحمه

## فلسفی پندونه لمړی برخه

یو روښان ضمیره لاروی چی زړه یی د معرفت په څراغ روښانه وو، د حضرت بایزید څخه پښتنه وکړه، چي ای د ټولو مریدانو مراده؟ دا رښتیا راته ووایه ؟چي دومره د سعادت او معنویاتو ګنج تا له کومه ځایه حاصل کړو؟ حضرت بایزید علیه الرحمه وویل: چي زما د مور د یوی قطرې د اوښکو څخه دا شاهد د مقصود زما تر څنګه شو، هره شپه به چي مور می بیده کیدله د هغی خپو ته به زما بستر‌پروت و، مور به می د شپی تر نیمایی پوری ما سره قیصي کولي ، او رازونه آوازونه او سرودونه به مو درلودله ، زمونږ قیصي به له شاتو او شکری هم خوږي وي ، زمونږ نغمی به د سحر د باده څخه هم روح نوازه او روح بخښونکي وي ، نا ببره یوه شپه هوا خړه پړه شوه ، او درنه واوړه زمونږ په کلي او کور پریوته ، یخ دومره زور شو چي وینه به یي په بدن کي سړوله او د یخنۍ د دمه به لمبه مړه کید له ، نیمه شپه شوه او مور می د خوبه راپاڅیده ،او زما څخه یي اوبه وغوښتي ما د یخنۍ د زوره په لرزانو لاسونو د اوبو جام واخیست او د مور سرته راغلم خو مور می دوباره په خوب کې ولاړه او زه د حیا ادب او احترام څخه کلک د مور سرته ودریدم ،څو شیبی وروسته می احساس وکړ چی یخني جام زما په لاس کې ونښلاوه ،زه د مور سر ته سترګي په لاره جام په لاس او ساه تر ستونۍ سپره ولاړ وم ،سهار وختي چی د فیض او رحمت دروازۍ خلاصیږي مور می هم د لمونځ د پاره پاڅیده او ما ته یي وکتل چی و ولي د ونۍ په شان رپیږم او لرزیږم ،او سر تر پایه سپین اوختۍ یم ، نو مور می ماته وویل: چی د څه د پاره دي جام کېښنود ؟ او ځان دي دومره په عذاب کې پریښود . ما وویلي ای موری دا خطا وه چی ما جام د ځان د هوساینې د پاره ایښی وای ،که تا زما اوبه غوښتی وای او زه دي د ادب نه لیری په خوب لیدلای وای نو دا ماته ښه نه ښکاریده ،مور می زما د وینا څخه ډیره غمجنه او متاثره شوه ،او یو آه یی د زړه نه وایستی او د هغی سره یي یوه قطره اوښکه د سترګو راوڅڅیده نو په دي توګه د مور هره قطره د اوښکي د معنویاتو ګنجونه زیږوی او سړی د هغی قطری څخه سمندر شي

د استاد خلیل الله خلیلی یو شعرنه په پښتو ادب کې ژباړه
سیدعبیدالله نادر

## دیو جانس کلبی د یونان یو فیلسوف

آن دل که پـریشان شود از نـاله ای بلبل
در دامنش آویز، که با وی خبری هست
عرفی

د علم او حکمت په زده کولو سره ډیرو د علم او معرفت خاوندانو، په خپل ضمیر او باطن کې بدلون راوستی، که انسان د علم څراغ په خپل ضمیر او باطن کې روښانه وساتي نو د حقایقو د کشف و خواته مخه کوی ،او په ډیرو رموزاتو پوهیږي . د یونان د مشهورو فیلسوفانو او د حکمت د خاوندانو څخه چی د تاریخ په اوږدو کی ډیرو د معرفت خاوندانو د د ده د پند او حکمت نه ډکو خبرو او کنایو څخه ډیر څه زده کړي، او د ده کنایو ډیرو قدرتمندانو ته د خودۍ ټکان ورکړی. او د علم او معرفت خاوندانو تری د عالی همت درس اخیستی، ده په خپل طنزونو او کنایو د ژور فکر خاوندان په حیرت کې پریښي .او دا د حال خاوند (دیوجانس کلبی) دی. دیو جانس کلبی د یو خم یا مټ په مینځ کی ژوند کاوه ،چي د دنیا یي وسیلو څخه یوه جوړه پاک او ښه کالي درلودل چی هغه یي هم مریدانو د تبلیغ په سلسله کې په حلاله ټوګه ورته بخښلی وو. د مټ په مینځ کې ورسره یوه کاسه وه چی د اوبو څښلو د پاره وه. چی په هغي کې یی اوبه څښلی ، یوه ورځ یی یو ماشوم ولید چي په خپلو لپو یی او به څښلی د دي صحني په لیدلو سره (دیو جانس کلبی) کاسه هم لیری وغورځوله، او د ځانه سره وویل: چي دا هم په دنیا کې نه په کاریږي ، داسی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

ښکاري چي ديو جانس کلبی د دنيا د رموزاتو او اشاراتو څخه ډير ژر د عبرت ټکي راټولول او ژر يي عبرت اخيستی ،تند او شاهينی پرواز يي د خيال درلودی او رموزاتو ته د رسيدلو رسا ذهن ورته خدای تعالی ورکړی و ډيره مشهوره کيسه ده چي سلطان سکندر په خپل هغومره حشمت جاه او جلال سره چي کڼ شمير دولتی چارواکی ورسره ول ، د ديو جانس کلبی د محلی څخه يعني کوم ځای کي چي (ديو جانس کلبی)اوسيده سلطان سکندر تيريده سلطان چي د فتوحاتو په غرور او نفسانی هوی او هوس کي ډوب و . نو دي ته يی پام شو ، چي ديو جانس کلبی ده ته هيڅ پا ملرنه و نه کړه يعنی هيڅ اعتنا يی ونه کړه ،نو سلطان د ديو جانس کلبی و څنګ ته رانژدي شو.او ورته يی وويل: چي زه دي وپيژندم .نو ديو جانس کلبی ورته وويلي چي هو ما وپيژندی .نو سلطان سکندر ورته وويلي: نو ولی دي ما ته احترام و نه کړ ديو جنس کلبی ورته ځواب ورکړ . چي ته زما د بنده ګانو بنده يی طمع ،غرور او هوی او هوس دا زما بنده ګان دي، او ته د هغوی بنده ګی کوی .په داسی حال کي چي ته زما د بنده ګانو بنده يی نو څنګه ما سره برابری کولای شی ، سلطان په عالم د معنوياتو کي سخت د خپل ماتي او شکست احساس وکړ ،د دي خبری د خوريدو سره په زرهاوو کلنو ډ پادشاهانو په دربارونو کي د عبرت د پاره دا کيسه پاتي شوه .دا نه يواځي د سلطان د پاره د عبرت درس وو ،خو د هغی نه وروسته ډيرو مغرورو تاجدرانو او سلطانانو ته د عبرت درس وګرځيد ،د ده دکناياو څخه يوه دا ده چي په رڼا ورځ څراغ په لاس په ويرانو کي ګرځيدی او د لټون سترګي يی غړولی لارويانو تری وپوښتل چي په دي رڼا ورځ څراغ په لاس څه لټوې .ديو جانس کلبی وويلي :چي يو رينتينی انسان لټوم .چي ظاهر او باطن يی يو وي نه لکه ځيني انسانانو په شان چي صورت يی د انسان وي او باطن يی د ديو وي ، نو لارويانو ورته وويلي داسی کس نه پيدا کيږي مونږ ډير لټولی دي ، نو ديو جانس کلبی وويل: چي زه هم هغه لټوم چي نه پيدا کيږي آ چي نه پيدا کيږي زه د هغي پسي ګرځم .د دي خبری اثر د هغی زمانی نه ډيرو پيړيو را پدي خوا تر ننه پوری پاتي دی .ان چي تر مولانا جلالدين بلخی پوری رسيدلی نو مولانا د ديو جانس کلبی دي قيصی ته داسی اشاره کوی او داسی وايی:

دي شيخ با چراغ همی ګشت ګرد شهر
کز ديو دد ملولـم و انســانم آرزوســت
زين همرهان سست عناصر دلم ګرفت
شير خدا و رستـم داســتانم آرزوســت
ګفتم که يافت می نشود، جســته ايم ما
ګفت آنکه يافت می نشود ،آنم آرزوست

## فلسفی لټون

د هر چا فکر او تصور،د اسرارو درک نه شي کولای .په تيره د اسرارو حل خو، ډير د عقل او هوش خاوندان هم نشي کولای ،او ډير عالمان يي په ګونډوکړي .دا يو څو دانايان دي چي د عالم هستي په رموزاتو او اشاراتو تر خپلي اندازی او وسی رسی .او داسي خلک هم په تيرو زمانو او پيړيو کي ډير تير شوی .خو دا د ژور سوچ خبره ده، چي هغوی د دي دومره رسايي او پوهی سره سره بيا هم داسي وايي او د خپل د عاجزی او ناتوانی اقرار کوی .لکه په دي فارسی شعر کي چي عمرخيام وايي:

هـرګـزدل من ،ز عـــلـم محروم نشد
کـم بـود زاســـرار،کـه مفـهوم نشد
هفتاد دو سال فکر کردم شب و روز
معلومـم شـد که هيچ مـعـلـوم نشـــد

سره له دي چي ډير اسرار او رازونه ورته مفهوم شوی يا بل عبارت ورته ښکاره شوي خو بيا هم د کلونو،کلونو سوچونو وروسته ،دا شاعر ته معلومه شوی چي هيڅ هم معلوم نه شول ،د خلقت له پيل څخه تر ننه پوری ډيرد ژور سوچ خاوندانو په دي اړه خپل ذهنونه آزميلي ،په تيره شاعرانو په راز راز انداز کي يي خپل فلسفی مطالب او رايي ځای کړي. عمر خيام چي داسی فلسفی افکارو او سوچونو کي تر تولو دمخه دی نو په خپل يو شعر کي داسي وايي:

اســـــــرارازل را نه تــو داني و نه من
اين حـرف معـما نه تو خـوانــي ونه من
هـــست از پس پـرده ګـفـتګوی مـن وتو
چون پرده در افتد ، نه تو مـانی و نه من


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

خیام د اسرارو فهم یی د بشری سطحي د فهمه اوچت ګڼلی چې انساني درک یي د فهم څخه عاجز دی.ترکومه ځایه پوري چې نارسا عقل پولادین وزرونه آزمایلی شي ،نود ځېل سوچونوپرواز يي، آزمیيلي ،نو د خلکواو د فکر د خاوندانو د سوچونو په پایله کې يو ډول اشارات او عبارات مونږ ته پاتي دي . چي تر يو ځایه یا یوه حده پورې ،د انسان د تسل وړ ګرځيدلی شي . او هغه تسل دا دی ، چې د انسان نارسا فکر و خیال ته د خدای تعالی (ج)د اسرارو په حریم کي هيڅ لاره نشته ، ځکه مونږ نه هغه اسرار لیدلای شو ،او نه پری پوهیدلای شو ، خو څرنګه چي د انسانی سوچ سلسله آزاده ،او د فکر او سوچ د تناب غځيدلو کړی ، دا د بشر د خلقت څخه تر ننه پوری په تیره د ژور سوچ خاوندانو خاصه ده .یعنی د دي آزادی د هر چا سره شته چي په زړه پوری مساییلو ژور سوچ وکړي .او د مسآلو د حل څخه فلسفی خوند پورته کړی . ولی چي ژور سوچ په کایيناتو ، او په خپل ځان انسان خدای ته نژدي کوی ،او د انسان ضمیر ته روښنایی بخښي لکه په دي فارسی شعر کي چي بیان ډیر ښه شوی .

چو شمع از پی علم ،باید گداخت
که بی علم نتوان ،خدا را شناخت

نو په دي توګه شاعرانوخپل فلسفی تصورات او نظریات د شعر په قالب کي بیان کړي .چي يو لوی مطلب یي په خپل خاص ذوق او سلیقی سره په څلوریځو کي ځای کړی .داسی اشعارو کي فلسفی،ادبی، تعلیمی، انتباهی او تعلیمی درس پروت وي، څرنګه چي د انسان د عاجزی په هکله ډیرو څه ویيلي دي نو د عمر خیام په دي څلوریځ کي د دي ښه ذکر شوی.

کس مشـــکل اسـرار ازل را نـگـشاد
کس یک قدم از نهـــاد ،بیرون ننهاد
چون بـنــگری از مبـــتدی واز استاد
عجزاست به دست هرکه از مادر زاد
******
دوری کـــه در او آمـدن و رفتن مـاست
او را نه بدایـت ،نـه نهـــایت پیداســـت
کس می نزند دمی ، درین معنی راست
کین آمدن از کجـــا و رفتن به کجــاست

خو هغه قرار چي په يوه فلسفی لټون کي،تر کومه ځا يه چي انسان یوی پایلی ته ورسیږي ، هغه هيڅ چاته په لاس نه دی ورغلی . او ټولو تر خپله حده او د علم او پوهی په اندازه یی په دي میدان کي خپلي د تحقیق  خپی تناکی کړي ،بوعلی سینا چي د نړی يو لوی فیلسوف عالم او طبیب تیر شوی د ټولو علومو د پوهیدنی په خوا کی یي د شعر سره هم مینه وه .نو په خپل دي لاندنی څلوریځی کي داسی وایی:

دل ګرچه درین بادیه بسیار شـــتافت
یک موی ندانست ولی موی شګافت
اندردل من هزار خـــورشـــید بتافت
آخر به کمـــــال ذره یی راه نیـــافت

د فلسفی لټون د هڅو په لړ کي ،کوم فلسفی سوچونه او فکرونه چي ما کړي او کومی پایلی ته چي رسیدلی يم .زما دا دوه څلوریځي به همد فلسفی افکارو د خاوندانو له پاره د تسل او مننی وړ وي:

په سوچـونو زړه ته می را نه غـلو قرار
نـه خیـالات د فلســـفی می شـــو، مهار
شیرین عـمر په حیرت کي، رانه تیر شو
خو شکاره نه شو، د پردي شـــاته اسرار
******
په زرګونوســـترګي په کـار دي، چي دي وینو قدرت
بی حـــابه عقل و هـــوش، چي اندازه دي کړو عظـمت
په دا لړه عقل و پوهه ،چي مونږ واړه پری مـغرور يو
ډیره ګـــرانه ده چـــی پوی شـــو، په معمـــا د ازلیت

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ